


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنگي او نشراتي ارگان ته ښه راغلاست!



مجيب الرحمن « خطيبي »

د نشرنيته : 11 اکتوبر 2019 م

# الله تعالی

الله هو
الله هو الله
په سجدو به لمده ځمکه په ژړا کړم
دا ژبه به گويا ستا په ثنا کړم
هرڅه به تانه ځار کړم
هرڅه به تانه ځار کړم
لتانه به ځار کړم دا ځان
خپل ټول عيشو ارام
ووايم درودو سلام
ووايم دردو سلام
الله هو الله هو

يا الله موږته دی څه يو نبی دی رالیږلی
چي له نور نه يي جهان ټول ځليدلی
قوت يي زما په ځان کي نغښتلی
ما په مينه ښه په کلکه ، دی منلی
د هر مومن د شفاعت لپاره دی راغلی
حق تعالی خپل په رحمت دی نازولی
په خوښي کړه ورک زما د زړه دردونه
الله هو الله

دا هستی خپل په نور کړه راته روښانه
په رحمت دی ورک له ما کړه تورتمونه

په ژبه کلمه وایم
په شونډو کلام د حق
د حق کلام
ووایم درود و سلام
ووایم دردو سلام
الله هو الله هو هو

په سجدو به لمده ځمکه په ژړا کړم
دا ژبه به گویا ستا په ثنا کړم
هرڅه به تانه ځار کړم
هرڅه به تانه ځار کړم
لتانه به ځار کړم دا ځان
خپل تول عیشو ارام
ووایم درودو سلام
ووایم دردو سلام
***
مجیب الرحمن « خطیبي »

بازگشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org